پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۷/۰۹

# شخړې چې په هره کچه وي،

## خامخا د هوارۍ او حل لاره لري

شخړه Conflict د ژوند یو واقعیت دی. د شخړو هوارۍ او حل هم یو واقعیت دی. هیڅ داسي شخړه او اختلاف نشته او نه هم تاریخ داسي مسئله په یاد لري چې بلاخره نه وی حل شوی.

شخړه څه ده؟ د دوو یا له دوو څخه د زیاتوطرفینو تر منځ چې یو بل سره توپیر لرونکی اهداف لری، یا فکر کوی چې اهداف یې یو بل سره برابر نه دي، دغه توپیر او تضاد شخړه بلل کیږی. دغه اشخاص به یا وګړي وي، یا به ډلې وي یا به هم حقیقي او حکمي اشخاص وي. کله چې دوه یا څو طرفین او اړخونه یو بل سره متضاد او متناقص اهداف ولري، یو بل سره په شخړه اخته کیږي. دکتو د ترلاسه کولو او ښه موقف لرلو لپاره هم شخړې رامنځته کیږی. شخړې د دوو تنو، ډلو، سازمانونو، ملتونو، ټولنیزو اړیکو، اقتصادي اړیکو او د قدرت د روابطو ترمنځ پیښیدای شي. شخړې په دغه ډول اړیکو کې د بې توازنې له امله او د ساحاتو او د دغو غوښتنو تر منځ په توپیر سره منځته راځي.

که چیرې شخړه داسې برید ته ورسیږي، چې طرفین فزیکي برخورد وکړي او په وسله سمبال وي، دې حالت ته جنګ (war ) ویل کیږی. جنګ د شخړې یو پرمختللی، ګواښنده او له خطر ډک حالت دی، خو د دواړو رېښه شریکه ده، حال دا چې تاو- تریخوالی له دې دواړو سره توپیر لري، چې لږ وروسته به توضیح شي.

لکه چې پوهیږو د وګړو اړتیاوې د یوه هرم بڼه لري چې قاعده او بنسټ یې فزیالوژیکي اړتیاوې دي، وروسته بیا امنیتي اړتیاوې مخې ته راځي او ورپسې ټولنیزې او روحي اړتیاوې دی. دغه هرم نامتو اروا پېژندونکی او ټولنپوه مازلو (Maslow ) ډیر ښه توضیح کړی دی. کله چې یو څوک د دغو اړتیاوو کمښت احساس کړي، مقاومت او شخړې ته لاس اچوی چې پایله یې په شخړه کې ښکیل کیدل دی. دغه شخړې ځینې وخت پټه او ناڅرګنده بڼه لري، ځینې وخت برسیرنې او سپکې وي. هغه ځینې شخړې چې ژورې او بیخلنې او ډیرې څرګندې او ویجاړوونکې وي، له خطرونو ډکې وي. زیاتره شخړې مادی او حقوقی او لږ شمیر یې ټولنیزی، سیاسی او کلتوری بڼه لري، خو بیا هم



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

مهم لامل یی مادی امتیازات، دریځونه ترلاسه کول، متضادي انګیزي، ناوړه پوهېدنه، یو بل سره په تضاد کی هدفونه لرل، پراختیا غوښتنه، شهرت غوښتنه ، قدرت غوښتنه او دی ته ورته نور لاملونه دي. که دغه ډول شخړي په جګړه واوړي، طرفین د خپلو پورتنیو غوښتنو په پرتله په مراتبو اوچت او مهم ارزښونه او آن خپل ژوند له لاسه ورکوي.
د شخړي یوه حیرانوونکی بڼه د متضادو نظریاتو او انګیزو لرل دي. دغه متضاد نظرونه او انګیزی د قدرت غوښتنی او پراختیا غوښتنی په حالت کې ډېري ویجاړوونکی دي. اما په ځینو حالاتو کې د نظرونو احتلاف د اصلاح، انکشاف او تکامل سبب کیږی، یعني دنظر احتلاف د بحثونو، مناظرو او دیالوګ په نتیجه کې د ستونزی او مسئلي د ډیر ښه حل لامل ګرځي او بلکی زیاتره وختونه غنا ښنونکی او نوښت لرونکی هم وي، چې د نظرونو د توپیر په پایله کی یوه ډیر ښه درېیمه لاره را پیدا کولای شي. په سیاست، قدرت او حاکمیت کې هم شخړي، د نظراتو توپیر او د انګیزو بیلوالی د ژوند یو واقعیت دی. مشکل دا ده چې د قدرت لپاره شخړه د ډیرو پراخه جنګونو سرچینه او د ملي تباهی او وژنو لامل ګرځي.
سوله او شخړه د یوی سکی دوه مخونه دی، له نیکه مرغه زیاتره شخړی د حل وړ دي. د شخړې هوارول Conflict) (Resolution یوه معموله او ډیره ګټوره ښکارنده ده، چې د نویو اړیکو د جوړولو او ښکیلو اړخونو ترمنځ د نویو او پاییدونکو مناسباتو لامل ګرځي. د شخړې هوارول له تاو- تریخوالی څخه ډک چلند ته د پای د ټکی کیښودل دی. د شخړی مدیریت د ښکیلو اړخونو په چلند کی د مثبت بدلون راوستل او د دوی په فکر او چلند کی په زړه پوری تغییر او په راتلونکی کی له تاوتریخوالی د ډډه کولو او د نورو اختلافاتو کمول دي. تاوتریخوالی د شخړی پایله ده، یعنی شخړه او تاوتریخوالی یو بل سره توپیر لري، حتمی نه ده چې د هری شخړی پای به تاوتریخوالی وی. تاوتریخوالی څه شی دی؟ تاوتریخوالی (خشونت Violence یا Dispute) هغه الفاظ، کړني، انګیرنی، جوړښتونه، نظامونه او د چلند طرز دی چې د جسمی، روحی یا محیطی زیانونو لامل وګرځي، یا داسی اغیزه لرونکی نظام، چلند، کلمات او کړنه چې خلک د دوی له بالقوه انسانی استعدادونو بی برخی او د دوی د ظرفیتونو د اوچتیدو خنډ شی. په دی توګه تاو- تریخوالی یوه ډیره منفي ښکارنده ده.
بیرته شخړې ته راځو: شخړه هغه وخت زیاتیږي او په تاوتریخوالی بدلیږی چې د شخړی د هواری لپاره ګام اوچت نشی، تفاهم رامنځته نشی او د شخړی مدیریت ونشی. په دی توګه، ورځنیو بحثونو کی د شخړی هوارول او د تاوتریخوالی له منځه وړل دوه سره جلا مفاهیم دي. که چیری شخړه وټکول شی او هواره نشی. په راتلونکی کی د ستونزو او تاوتریخوالی لامل کیږی. په تاوتریخوالی باندی د شخړی اوښتو لاملونه دا دي:

- د خبرو – اترو د کانالونو نا کافی والی.
- د ګیلو او نیوکو نه اوریدل، د مخالفانو غږ ته غوږ نه نیول او شکایتونه نه اوریدل.
- د بیعدالتی او بی ثباتی دوام،
- د مناسب او وړ درېیمګړی نه موجودیت، یا ناکام او بی تجربی یا غرض لرونکی درېمګړی،
- د مذاکراتو نه ترسره کول یا مذاکراتو ته اهمیت نه ورکول،
- یواځي او یواځي زور ته اړم کیدل او له منطق څخه تیښته،
- د مغرضو کسانو لاسوهني او د دووطرفینو ترمنځ د پټو اغراضو لرونکو منفعتونه،
- د ناخوښیو نه رفع کول او مرورتوب او نارضایتی نه پخلا کول،

❖ بیځایه غرور او یو بل ته اهمیت نه ورکول او له واقعیتونو اومعقول قضاوت څخه تیښته.

که چیری پاملرنه وشی، وګړی بیلابیلی غوښتنی، ذوقونه، د پوهی بیلابیلی کچی، په کلتور کی توپیرونه، فردی تجارب احساسات او امیال لری، نو څکه باید دا هیله ونه لرو چی مونږ ټول باید حتماً کټ مټ وضیعت ولرو او یا یو دبل په غوښتنو او هیلو سترګي پټی کړو، بلکی باید د حل د لارو په هوارولو فکر وکړو.

د شخړو د هواري ډیری ښی لاری د روحیاتو اوچتول، هڅونه، د شخصیت وده، مذاکرات، د پوهی اړتیا او د اراواپوهنی پوخوالی دی. په پرمختللو ټولنو کی او د اوچتی کچی کلتور لرونکو هیوادو کی، د خلکو د پوهی کچه اوچته، د کلتوری ارزښتونو پالنه ښه او ښوونه او روزنه د پام وړ ده، نو څکه هلته ډیر لږ شخړی پیښیږي او که پیښی شي ډیر ژر په بشپړ ډول هواریږي او په تاوتریخوالی نه بدلیږي، بلکی مذاکرات او حل یې د عامه اعتلا لامل کیږي.

د شخړو د هواری او حل لپاره بیلابیلو ټولنو او د ټولنو د تکامل، کلتوری او تاریخي ودې،معنوي بلوغ، اتنیکی جوړښت او یو شمیر نورو ځانګړنو له مخي داسي بنسټونه شته چی د شخړو هواری کی یې رول ترسره کړی دی. زموږ افغانی ټولنه کي د تاریخ په اوږدو کي دغه بنسټ عنعنوی جرګی او مرکي، دمشرانو او سپین ږیرو تجارب او سپارښت، دټولني په حاشیوی اقشارو لکه ښځو، معیوبینو، معلولینو، ډیرو بیوزلو باندې ترحم او ددوی په وړاندې زغم او دوی سره اصلاً مخالفت په سازش او عفو بدلول دي. زموږ په ټولنه کي دغه غوره اوصاف زموږ د تاریخي، فکری او کلتوری بلوغ او غوره ځانګړنو یوه نښه ده. له دغو مهمو او منلو ارزښتونو څخه یو یې هم جرګه او مرکه ده، چي په ډیر ښه ډول یې دا دروند اوبشری نیک مسئولیت په غاړه لرلی او لا یې هم لري.

په نوی عصر کي دغه مسئولیت تر یوې اندازی پوری مستقلو بنسټونوته ور په غاړه شوی دی. پرمختللو صنعتی ټولنو کي مدنی بنسټونو او د سولی راوستلو او داختلافاتو د حل رسمی سازمانونو دغه مسئولیت په غاړه اخیستی دی، چي د یو شمیر هغو نومونه او ادرسونه دادي: په افریقا کي ( info@accord.org.za - www.accord.org.za)، د نړۍ سل سازمانونه سولي سازمان، د سولي نړیواله ټولنه (office@ifor.org- www.ifor.org)، اکسفام (oxfam.org.uk) د کاناډا پګواش سازمان، برتانوی اکشن اید (-actionaid mail@actionaid.org.uk) د برغوف د سولي مرکز (آلمان n.n@berghof..b.shttled.de)، په هند کي د "نلسن ماندیلا" د سولی راوستو او سولي ساتنی سازمان (مرکزی دفتر یي د ډیلی د جامعۀ اسلامیه پوهنتون کي ده، "کریستن آید"

(Christian aid-info@christian.org)، د سولي د خیرنو مرک(gernikag@sarenet.es)، د سولي او ژوند مؤسسه (nordnet.se/۱pi-۱pi@alginet.s)، په کیپټاون کي د شخړو د حل مرکز ( mailbox@ccr.uct.ac.za- CCR,)، د آلمان هیواد د پرمختیا خدمات (alv@ded.de )، د سولي د څیرنو مرکز( sarencet ) شخړي ته ځواب (RTC –www.respond.org-enquiries@respond.org) او داسي نور سازمانونه. دغه مراکز نه یواځي د چګړو او شخړو پر مهال، بلکي تل او دایماً فعال دي او د سوکاله، سوله ییز، پرته له شخړو او تاوتریخوالی ټولنی درلودلو په موخه کار او څیرنی کوی. له همدي امله د دوی په ټولنو کی هیڅ ډول تاوتریخوالی، کوچنی او غټي شخړی او جنګونه نشته. د دغو سازمانونو شتون او څیرنو لوی بشری خدمات ترسره کړي دي.

اوس چي افغانستان دغه ډول بنسټونو ته اړتيا پيدا کړی ده، په کار ده چي د سولي انستيتوت، يا هم د سولي ساتنی او سولي راوستو څېرنيز بنسټ جوړ کړي. په دغه ډول يوه څېرنيز مرکز کي به د افغانی ټولنی د سايکالوژي او جوړښت په تحليل سره د باثباته او کلکي سوله ييزی ټولنی د جوړيدو او دوام لپاره علمی تحقيقات وشی، د شخړی پټ او ښکاره عوامل به وڅيړل شی، شخړو ته به دحللاري وموندل شی او د تاو- تريخوالی ستونزه به هواره شي. غوره به دا وي چي د سولي د شورا، د سولي دوزارت، د سولي د کميسيون او نورو په عوض، يو د سولي راوستو او سولي ساتنی علمی انستيتيوت ولرو، چي مسايل په علمی ډول وڅيړی او حل يي وموومي. دا ډول يوه موسسه بايد موږ لا ډير پخوا درلودای. دنړی ډير ارام او سوله ييز هيوادونه هم د ( Peace keeping ) او ( Peace Making) مسايل په دقت سره تر نظر لاندي لري.

افغانستان تر ټولو بده پنځه ځلويښت کلنه جګړه تيره کړه چي زيات شمير ځانی، معنوي او مالی تاوانونه يي وزغمل، خو دغه جګړه کاملاً افغانانو ته بی ګټي وه، دهغي ګټه نورو ته ورسيده او لاملونه يي هم ډير پيچلی، بهرنی، کورني او زيات نور وو. څومره چي وخت تيريږی، د دغو جګړو زيانونه او تيروتني جوتيږي او د تاريخ قضاوت يي محکومږي. تر ټولو بده يي لا دا چي دوو اصلی طرفينو هم په خپل منځ کي خپلمنځي شخړی او اختلافات لرل او لري يي، چي همدي فکتور له اصلی لوري سره د دوی د شخړو او جنګ پوچوالی هم ښوده . ثابته شوه چي دغه اوږده جګړه په هيڅ مرحله کي منطقی او يوه لوري ته هم ګټونکي نه وه ، اکر که يو ځل د ملګرو ملتونو د نيکو هلو- ځلو (Good Office - مساعی جميله) دفتر او د جينوا توافقاتو او د وخت د رژيم د ملی مصالحي پروګرام د سولي ډير ښه فرصت برابر کړ، خو له بده مرغه نويو خپلمنځي شخړو دغه چانس له منځه يووړ. اوس دا دی افغانستان يو ځل بيا همدا سي يوه حل ته ورنږدي شوی دی، خو لکه د مخکي په شان دا ځل هم په خپله افغانانو پوري اړه لري چي څنګه سولي ته ورسيږي او څنګه ځانونه د بهرنيو په اغراضو پوه کړي. په تيرو اوږدو (۴۵کلنو)جنګونوکي جګړه او د جګړې دوام بی ګټي ثابت شو. په اوسنی مرحله کي د سولي راوستو او د شخړی د هواری د ميکانيزم له مخي بايد لومړی اوربند وشي. اوربند د سولي او روغي- جوړې لومړی شرط دی. وروسته چي فضا خبرو اترو ته جوړه شوه توافقات دی وشی، البته منځګريتوب او مذاکرات مهم شرطونه دی. دواړه لوري بايد د سولي لپاره صادقانه آمادګی وښيي.

*د جګړې پای فقط او فقط سوله ده او بس!*

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!